مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان

۲۰۲/۰۹/۰۹

# جوان؛ د شاه رخ خان د فلمي ژوند دوهم پړاو




جوان یا په بله اصطلاح (سرتیری) د شاه رخ خان هغه فلم و چې له اوږده انتظار وروسته پرون د هندوستان او نورې نړۍ په سلګونو سینماوو کې خپور شو.
دغه فلم چې له پټان وروسته د شاه رخ خان یو بل ستر او کامیابېدونکی فلم ګڼل کیږي، د جنوبي هندوستان ډایریکټر اتلي (atlee) لیکلی، چې لارښود یې هم په خپله دی و.
جوان له تېرو څو میاشتو راهیسې په هندي رسنیو کې د سر خبر و او د کتونکو لېوالتیا یې د ټیزر او پریویو له راتلو سره خپله کړې وه.
که په لنډو معلوماتو وغږېږم فلم ۱۶۹ دقیقې دی، چې اصل ژبه یې هندي ده او پرون یې په ټول هند کې ۷۵ کروړه وګټلې چې په دې سره یې د پټان د لومړۍ ورځې بېزنس ریکارډ مات کړ.
پټان په اوله ورځ ۵۷ کروړه ګټلې وې.
د فلمي صنعت زیاترو نقادانو جوان ته په ۵ کې ۴.۵ نومرې ورکړې او IMBD ویب سایټ کې یې بیا ۱۰ کې ۸.۴ نومرې وړې؛ خو زه ورته ۸.۵ نومرې ورکوم.
داسې اټکل کیږي، چې فلم به تر ټولو ژر ۵۰۰ کروړه هندۍ روپۍ پوره کړي او بیا به دغه شمېر په نړیواله کچه ۱۰۰۰ کروړه ته ورسیږي.
که داسې وشي، شاه رخ خان به لومړی هنرمند شي چې دوه فلمونه یې سر په سر ۱۰۰۰ کروړه پوره کوي.
فلم ښایي نن کمه ګټه کړي، ځکه خلک په کارونو بوخت وي، خو سبا چې دولتي ادارو کې نیمه ورځ رخصت او د یکشنبې ورځ ټوله رخصت ده، نو ممکن ګټه یې بیخي ډېره شي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

که څه هم ټول متفق دي چې شاه رخ خان د هندي سینما باچا او د نړۍ تر ټولو ستر فلمي لوبغاړی دی؛ خو څلور کاله وړاندې چې د څو مسلسلو ناکامیو وروسته د هغه د بخت ستوری پیکه شو، نو ټولو دښمنانو ته یې موقع په لاس ورغله چې د هغه را غورځولو کې پوره پوره برخه واخلي؛ مګر شاه رخ مړ شوی نه و، بس یوه وړه دمه یې کوله .
د بالیووډ رقیبانو سوچ وکړ چې د یو څو ساوت اندین فلمونو له کامیابي سره به هندي سینما ته د پاچ ټکی کېښودل شي؛ خو دوی د پټان او غدر ټو له حیرانونکي ګټې خبر نه و. خبر نه و چې سږ کال به مسلسل ۶ فلمونه کامیاب شي او ښایي د کال تر پای دغه شمېر لا نور ډیر شي؛ ځکه لا خو د شاه رخ خان (ډنکي) او د سلمان خان (ټایګر ټري) هم نه دي راغلي، چې کامیابي یې بیخي یقیني ده.
که پټان فلم په بالیووډ کې نوې ساه واچوله او هندوستان کې تر ټولو زیاتي پیسې ګټونکی هندی فلم شو؛ نو جوان هم کم نه دی او ښایي په نړیواله کچه ۱۰۰۰ کروړه هندۍ روپۍ وګټي.
ما خپله پرون جوان فلم وکوت او ریویو مې له Ahmad Samoon Sharifi سره د خبرو خبرو پر مهال ولیکله، چې منفي او مثبتو نقطو ته یې تاسي هم رابولم. لومړی به د فلم په مثبتو خبرو خولې خوږې کړو.

### ۱ـ د ایټلي کمار ډایریکټري:

۳۶ کلن ایټلي کمار چې لا هم فلمي صنعت کې ځوان دی او په جنوبي هند کې د مني رتنم، سوکمار، راجه مولي، پرشانت نیل او ګنګراج په څیر کامیابو ډایریکټرانو کې حسابیږي، جوان فلم یې ډایریکټ کړی دی .
ده په ۲۰۱۰ کال کې د فلمونو جوړولو عملي میدان ته را ودانګل، ۳ کاله مرستیال لاربښود و او بیا یې په ۲۰۱۳ کال کې د راجا راني په څیر شاهکار فلم ډایریکټ کړ.
نوموړی د جوان فلم لیکوال هم دی. ده دغه کیسه شاوخوا ۵ کاله وړاندي لیکلي وه، چې شاه رخ خان ته یې د IPL پر مهال ویلې وه؛ خو د نوموړي ځکه خوښه شوې نه وه چې د نړیوال فلمي معیار په کچه نه وه. بیا نو ایټلي کیسه له سره ایډیټ کړه او نور مرچ مساله یې هم ور زیات کړل .
ایټلي له ویجی تلپاتي سره په (بیګل) فلم مصروف و چې دا کیسه یې وکښله او ښایي د هغه فلم بریا یې ذهن ته دومره ښه سوژه په لاس ورکړې وي .
ایټلي د (تیري، بیګل، میرسل، کاپوا او راجا راني) په څیر کامیاب فلمونه جوړ کړي دي. دی تر اوسه د ۹ فلمونو لاربښود پاتي شوی او کوم فلم یې ناکام شوی نه دی.
ایټلي د نویو سوژو، نویو تخنیکونو، سټایلیش صحنو، او قوي ایکشن رامنځته کولو کې ماهر بلل کیږي او پوهیږي چې له یو غښتلي ایکټر څخه څنګه کار واخلي؟!
د فلم لومړۍ مثبته نقطه همدا ده چې ایټلي کمار یې ډایریکټر دی. ښایي که بل ډایریکټر وای، د فلم ډایریکشن برخه کې به مو لړ و ډیرې نیوکې لرلې؛ خو اوس پکې زه څه نه وینم.
د دې ترڅنګ ایټلي به هیچا سره ښکاره رقابت او دښمني نه لري، همدا علت و چې پرون د فلم د بري لپاره هر ډایریکټر او ایکټر نیکې هیلې ور وسپارلې.

### ۲ـ د ریډ چیلیز:VFX

ریډ چیلیز اینټرټینمینټ (Red Chillies Entertainment) په هندوستان کې د وي ایف ایکس او سي جي ای تر ټولو ستره کمپنۍ ده چې شاه رخ خان او د هغه مېرمن (ګوري خان) یې چلوونکي دي .
دغه شرکت شاوخوا ۱۵۰۰ کروړه شتمني لري، چې په ۱۹۹۹ کال کې یې فعالیت پیل کړ او د لومړي ځل لپاره یې په (پهیر بهی دل هی هندوستانی) فلم کې تخنیکي چارې ترسره کړې .
د ریډ چیلیز تخنیکي ټیم او کارمندان تر وروستي حده مسلکي دي او ډیرو هندي فلمونو ته یې خپل VFX خدمات ورکړي دي .
تر ټولو مشهور کار یې د (را ون) فلم CGIاو VFX ترسره کول و.
ښایي ویوښتئ چې VFX څه شی شو؟ CGI او VFX په یو فلم کې د کمال رول اداء کوي. ښایي ډیرې داسي صحنې مو لیدلي وي، چې موټرونه په بمونو الوځي، خلک په سمندرونو کې ډوبیږي، د فلم هیروګان له الوتکو ځان را غورځوي. دا اصلاً ټول په کمپیوټر جوړې شوې صحنې وي، چې د CGI او VFX تخنیکونو پر مټ د زرغونې پردې مخې ته جوړیږي او اصلاً کوم حقیقت نلري.
په هندي فلمونو کې پخوا د هالیووډ (غربي نړۍ) په نسبت د CGI او VFX کارول کم و؛ خو اوس د ایکشن فلمونو ۷۵ سلنه په همدې تخنیکونو جوړیږي.
ریډ چیلیز تر دې مهاله د (اسوکا، چلتي چلتي، میں هون نا، اوم شانتی اوم، بیلو باربر، را ون، ډان ټو، سټوډنټ اف دَ ایر، چنایي ایکسپریس، دل والي، رئیس، زیرو، بب ویسواس، ډارلینګ او کامیاب) په څیر ښو فلمونو کې د CGI او VFX چارې پر مخ وړې دي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څیر و لولئ

### ۳ـ د پټان مثبتې اغېزې او قوي کمپاین:

شاه رخ خان د ۲۰۲۳م کال پیل له ۴ کلن ځنډ وروسته پټان فلم سره وکړ، چې د اپریل میاشتې تر پای پورې یې ټوله نړۍ کې ۱۰۵۰.۳ کروړه هندي روپۍ وګټلې او دا د کال تر ټولو غوره فلم شو. د پټان فلم غوره بیزنس او کامیابي د شاه رخ خان مینه والو او فلم کتونکو ته د جوان فلم د کامیابۍ زیرې په ایډوانسو کې ورکاوه .
د دې ترڅنګ فلم ته د هند په هره برخه کې ښه رسنیز کمپاین وشو او په مسلسله توګه خو میاشتې د فلم خبرونه په رسنیو کې تاو راتاو شو .
که څه هم په نارمل توګه لومړی د فلم لنډ ټیزر او بیا ټریلر خپرېږي؛ خو د جوان جوړونکو د ټیزر او ټریلر په منځ کې د (پریویو) په نوم دوه نیمې دقیقې ویډیو را ووېسته چې خلکو کې یې لېوالتیا نوره هم زیاته کړه .
بیا یې په ډېر مهارت سره هره اونۍ یوه یوه سندره خپره کړه او په جنوبي هند کې یې د زرګونو خلکو منځ کې د میوزیک لاونچ په نوم غونډه جوړه کړه.
فلم ته دومره قوي کمپاین وشو چې په لړ کې یې ان شاه رخ خان د سني دیول د غدر ټو فلم د بریا نمانځغونډې ته هم ورغی. حال دا چې دوی دواړو په (ډرر) فلم کې له شخړې وروسته حقه سلام نه سره درلود.
د قوي کمپاین بله بېلګه یې دا چې له فلم خپرېدو ۶ ورځې وړاندې ایله ټریلر خپور شو او تر همدې ورځې خلکو بس همدا سره ویل چې د فلم ټریلر به کله راځي؟
همدا راز فلم له اصلي نېټې را شاته شو او په درېو ژبو کې یې د خپرولو راپورونه نشر شول، چې په سبب یې د هر لوري خلک ځان ته ور مات کړل او ټریلر یې بیا په متحده عربي اماراتو کې د برج خلیفه مشهورې ودانۍ باندې خپور شو.

### ۴ـ نالیدل شوی ایکشن:

په هندوستاني سنیما کې لا هم وطني ایکشن رواج دی او ډېر کم داسې فلمونه لیدل کېږي چې خلک یې له ایکشن (جنګي صحنو) هم خوند واخلي. (له ربس، ټایګر، ډان او وار لړۍ، کیک، ساهو، بنګ بنګ، پټان او اټیک) فلم پرته ښایي ډېر کم داسې فلمونه وي چې ایکشن صحنې کټل یې خوند درکړي.
اوس ښایي جوان هم په دې لیست کې بل ور اضافه شوی نوم وي.
په جوان کې ځای ځای ایکشن صحنې تېزې شوې او ځینو ځایونو کې بیا سلو موشن ته اړول شوې، چې د ډایرېکشن په قوت دلالت کوي او ترڅنګ یې لیدونکي هم اغېزمنوي.
ایکشن تر ډېره په ښه بڼه ترتیب شوی او زیات غیر منطقي هم نه دی.
په فلم کې د دواړو بڼو (وطني او عصري ایکشن) صحنې شته، چې په مرسته به یې د دواړو ډولونو کتونکي ځان ته جلب کړي.
ترڅنګ یې د چاودنو، وسلو او موټرونو حادثې د هالیووډ په کچه ترتیب شوې دي.

### ۵ـ مضبوط کاستینګ:

جوان کې مرکزي رول شاه رخ خان کړی او منفي رول یې د جنوبي هند تر ټولو نوم وتي ویلن (ویجي ستوپتي) ته ورکړی. ښځینه رول بیا په لومړي ځل هندي فلم کې راڅرګندېدونکې (نینتارا) کړی.
له دوی پرته پکې دیپیکا پډکون، سانیا ملهوترا، سنجې دت، سنیل ګرور، ریدي ډوګرا، سنجیتا بټ اچاریا، لیهار خان، ګیرجا اوک، مکیش چیرا، الایا قریشي، یوګي بابو او اعجاز خان لوبیدلي دي.
که د هر کرکټر په اړه خبره کیږي، نو تبصره اوږدیږي؛ خو لنډ لنډ باید وغږېږو:
شاه رخ خان د بالیووډ باچا ګڼل کیږي او د رومانټیکو فلمونو ترڅنګ یې په ایکشن کې هم خوک ثاني نشته .
د هغه ویلن په جنوبي هند کې ډېر مشهور دی او له ویکرم فلم وروسته د بالیووډ ډایریکټرانو هم ورپام شوی.
نینتارا چې په لیډي سوپرسټار هم مشهوره ده، په فلمونو کې اوږده سابقه لري او هر رول په خورا مهارت ترسره کوي.
دیپیکا چې په ۲۰۰۷ کال کې د شاه رخ خان فلم سره بالیووډ ته راغله، اوس په هالیووډ کې هم لوبېدلې او هر سخت رول په اسانۍ کولی شي .
سانیا ملهوترا، سنجیتا بټ اچاریا او ریدي ډوګرا بیا هغه درې ګونی مثلث دی، چې ښایي په راتلونکې کې د هندوستاني سنیما سټر سټر نومونه شي.
سنجې دت هم په ځانګړو جنایي فلمونو او سنیل ګرور بیا په پولیسي او کامیډي انداز کې خپل مقام لري.
د فلم نور کاسټ هم ډېر په زړه پورې او غښتلی دی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

**۶ـ ومین پاور:**

په زړې هندی سینما کې د فلم ښځینه نجلی فقط د ډې لپاره وه چې ویلن ورسره زور زیاتی وکړي؛ خو اوس د دې وخت راغلی چې ښځینه اداکاراني ان له نارینه هیروګانو پرته فلمونه جوړ کړي. ښه مثال یې د کنګنا رناوت قوین اف جانسي راني، د عالیه بټ ګنګو بهایي او ډیر نور فلمونه دي.
په جوان کې هم د شاه رخ خان (د ځوانی کرکټر) شاوخوا ټول ښځینه هنرمنداني دي او دوی هرې یوې د (غم، خوښی او ایکشن) صحنو کې ځپل کردار دومره ښه لوبولی، چې سترګو اړولو ته به مو زړه ونشي .
ښايي جوان هم د بالیووډ په هغو فلمونو کې ولیکل شي چې د ښځو مثبت جوهر یې نړۍ ته وښوده او هغوی ته یې د ایکشن زړه وړونکي صحنې برابرې کړې.

**۷ ـ لوړه بودیجه او ښه موقعیتونه:**

جوان فلم باندې شاوخوا ۳۰۰ کروړه هندی روپۍ لګول شوې، چې دا د شاه رخ خان تر ټولو ستر فلم شو. له دې وړاندې په پټان ۲۵۰ کروړه لګول شوې وې او چې هلته یې ستره بریا ولیدله، نو دلته هم د زیاتې بودیجې په ارزښت پوی شو.
ښايي همدا د زیاتې بودیجې داډ به وو، چې فلم په څو فلمي ځایونو (فلم سیټي) کې جوړ شوی، له بیلابیلو سټوډیوګانو ګټه اخیستل شوې او کرکټرونه د تامیل ناډو، اندرا پردیش، تیلنګانا، کیرلا، بیهار، پونې، حیدراباد، ممبی، چنایي، بنډرا، راجستان، لویدیځ بنګال، سینګاپور، هسپانیي اوفرانسې په ګډون ګڼو سیمو ته پکې تللي.
فلم کې هر اداکار، اداکارې، میوزیک ډایریکټر او سندرغاړو ته پوره معاشونه ورکړل شوې او ترڅنګ یې دې ته لاره هواره شوې چې فلم درې چنده زیاته ګټه وکړي.

**۸ـ ښه ایډیټ او قوي ډیالاګونه:**

د هندوستاني فلمونو په ایډیټ ټل نیوکې شوې؛ بعضې وخت یې صحنې له حده زیاتې سترې کوونکې، ورو او ځینې وختونه بیا له حده تېزې بلل شوې .
لیدلي به مو وي، چې یو خدای وهلی کیلي باندې یا په شهادت ګوته خلک سوري کوي او لکه چاقو داسې یې پرې حلالوي. یا په یوې لغتې موټر ته ۳۲ لټونه ورکوي. یو سوک سره کس ۱۲ متره لرې ګوزاروي .
مګر د ریډچیلیز او ایټلي کمار ټیم ته باید داد ورکړل شي، چې فلم یې نهایتاً چالاکی سره ایډیټ کړی دی .
په ایکشن صحنو کې ځای نه ځای تور بیګراونډ رامنځته شوی. تیاره صحنې له ښه لایټینګ برخمنې دي او د شاه رخ خان ۷ واړو اندازونو ته د کمال کچې ځبرې، جامې او اندازونه برابر شوې.
همداراز د صحنو سټایلش کولو ته هم پام شوی.
ترڅنګ یې ډیالاګونه دومره زورور دي، چې سنیمګاني په سټیډیمونو بدلوي او مینه والو نه غیر اختیاري چیغې باسي.
د ډیالاګونو د ویلو انداز (ډیالاګ ډیلیوري) هم د ستاېلو وړ ده.

**۹ ـ نوې کیسه او د کرکټرونو منفي رنګ:**

که د پټان په کیسې بحث کیږي، نو ښايي ډیر خوند درنکړي، هماغه د پاکستان او هندوستان زړه دښمنې پکې را اخیستل شوې؛ خو جوان بیا داسې نه دی. له سیستم، مافیا، ظلم او حکومت سره پکې جګړه شوې او هر حقدار ته خپل حق ورکړل شوی.
هر کرکټر ته یوه کیسه ځانګړې شوې او هر تن یوه ژړونکې ماضي لري، چې د فلم په ایموشنل کولو کې یې پوره رول لوبولی.
د دې ترڅنګ شاه رخ خان له کلونو وروسته په ډبل رول راغلی چې هم یې د پلار او هم د زوی کرکټرونه ترسره کړي .
د پلار په حیث د نوموړي انداز بیخي جلا، ځانګړی او اې ون دی .
شاه رخ چې د فلمي کیریر پیل کې یې د بازیګر، رام جاني، ډرر او انجام په څیر فلمونو کې منفي کردارونه وکړل، خورا مشهور شو او له ډان سیریز وروسته یوه اوږده موده شوې وه چې د نوموړي همدا منفي انداز خلکو نه و لیدلی .
له جوان فلم سره د لیدونکو دا تنده هم خړوب شوه.
په فلم کې کیسه بیخي ښه او د زبردست پیغام لرونکې ده.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

همدار‌از د ماضي او حال په برخو کي ښه وېشل شوي، چي لیدونکي تري خوند اخیستلی شي او ستړي به یې نه کړي .
باید دا هم ووایم چي جوان یوه مساله لرونکي ایکشن کیسه ده، چي کامیډي او ایموشنل صحنې هم پکي غوره توګه باندي ځای پر ځای شوي او فلم یې لا نور ښکلی کړی دی.

### ۱۰ـ د هنرمندانو قوي انرژي صحنې:

پخوا داسي و چي د هېرو له راتګ سره به بادونه شول، له ونو به پاڼي را غورځېدې، اسونو به شنهار پیل کړ او یوه مصنوعي زلزله به شوه؛ مګر اوس نو دا ډول غیر منطقي کیسه څوک نه مني.
څکه خو په جوان کي هم د پټان په څېر د شاه رخ خان هر کرکټر ته ښه انرژي صحنه جوړه شوې.
د هغه په رختونو ترلی وجود، په ریل ګاډي کي د هغه کټا سر، د پلار بدمعاش مخ او د یو پوځي جلبونکي څېره هغه څه و چي سنیماګانو کي یې له هر ځل لیدلو سره د کټونکو چکچکي او شپیلي خپل کړل.
د دي ترڅنګ په فلم کي نورو لوبغاړو ته هم د پېژندني ځانګړې صحنې ترتیب شوې او د هر هنرمند مینه وال مایوسه شوي نه دي.
ان ویلن ته هم دومره زورور رول او سکرین پلې ورکړل شوې چي هېرو سره یې فرق نشته.

### ۱۱ـ د فلم ښه پیل و پای:

د جوان کیسه له ماضي پیل کیږي. یو په وینو لړلی جسد ښودل کیږي چي سیند یې راوړي او د یو لرې پروت کلي خلک یې درملنه کوی. بیا کیسه ۳۰ کاله وروسته حال ته ځي چي د ښځینه و په یو جیل کي جبلر ته جایزه ورکول کیږي. وروسته ورو ورو د کیسې منځنۍ کړۍ سره نښلول کیږي او له هغه تن څخه غچ اخیستل کیږي چي سرتیرو ته یې خرابي وسلې ورکړې او د ۲۷ تنو د مړیني لامل شوی وي.
د کیسې منځ کي له حکومتي چارواکو او امنیتي ادارو سره د ارتباط ښه ترتیب جوړ شوی او بیا پای کي ولس ته یو غوره پیغام هم وړاندي شوی. هغوی له حکومته حساب غوښتلو ته رابلل شوي او هیله تري شوې چي هر چا څخه د سوال کولو همت وکړي.

### ۱۲ ـ مضبوط بیکګراونډ میوزیک:

د فلم وروستی مثبته نقطه دا ده چي د جنوبي هند مشهور میوزیک ډایریکټر (انیرود روي چندر) یې موسیقي تیاره کړې ده. د (زنده بنده او چلیا سندرو میوزیک) او د هر کرکټر د پېژندني پر مهال تېز بیکګراونډ، بیا د غمجنو او ایکشن صحنو پر مهال دوه مختلف میوزیک سازونه هغه څه دي چي فلم ته یې ځانګړې ښکلا وربښلې.
۳۳ کلن انیرود له دې مخکي هم تامیل او تیلګو ژبو کي قوي موسیقي پنځولې، چي تازه یې د رجني کانت په (جبلر) فلم کي کتلی شئ.
ویل کیږي چي ده د جوان فلم پر سر ۱۰ کروړه روپۍ اخیستي؛ خو زه وایم چي د دومره کمال میوزیک تیارولو لپاره دا هم کمې دي.
د فلم ساز او بیکګراونډ میوزیک هیڅ "خو" نه لري او د ستاینې وړ دی.
د فلم په ۱۲ مثبتو نقطو وغږېدو، اوس مو که خوښه وي، یو څو منفي نقطي به یې هم سره وشاربو:

### ۱ـ د سنجي دت کمزوری کیمو رول:

په هر فلم کي د ښځینه یا نارینه لوبغاړي/ لوبغاړي کېمو رول د دې لپاره وي چي د فلم مالګه ورسره برابره شي. که د پټان د کامیابی راز وپوښتي یو یې د سلمان خان کېمو (ځانګړی) رول هم دی .
مګر په جوان فلم کي چي څنګه له سنجي دت څخه هیله کېده، هغسي یې رول خوندور نه و .
له KGF فلم وروسته سنجي دت باید لا نور غښتلي رولونه وکړی .
که څه هم لومړیو کي ویل کېدل چي ښایي جوان کي الو ارجون کوم ځانګړی رول ولوبوي، خو هغه د پوشپا ټو فلم په شوټینګ بوخت و. بیا د رام چرن او ویجي تلپاتي په اړه هم ویل کېدل او ډېرو یې تمه لرله؛ خو هغسي ونشول.
که د سنجي دت پر ځای دا رول د جنوبي هند کوم بل اداکار کړی وای، ښایي د فلم په لا زیات بېزنس یې مثبته اغېزه کړې وه.
باید ووایم چي د دیپیکا ځانګړی رول او ایټم سندره له سنجي دت ښه وو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ

### ۲ ـ د فلم د بیان تېزه ژبه:

جوان داسي فلم نه دی چې تاسي یې یو ځل وګورئ! دا فلم باید دوه یا درې ځله وکتل شي؛ ځکه د فلم د بیان ژبه او د صحنو تېزوالی دومره ډېر دی، چې په یو ځل کتلو یې سړی ډېرو صحنو او سوالونو ته ځوابونه نشي موندلی .
فلم کې ځیني صحنې بې وضاحته هم شته، چې کنېکشن یې باید تاسي ورکړئ !
د بعضو صحنو په اړه باید له وخت مخکې قضاوت ونکړئ او هر څه په صبر وګورئ.

### ۳ ـ له سندرغاړو پوره کار نه اخیستل:

د فلم بیکګراونډ میوزیک خو شاهکار دی؛ مګر په هغه کچه له سندرغاړو کار نه دی اخیستل شوی. ما فکر کاوه چې د پټان فلم سندرې کمزورې دي او د شاه رخ خان پخوانیو فلمونو ته نه رسیږي؛ خو چې د جوان زنده بنده سندره مې واورېدله، نو د پټان جوم جا پټان مې پرې زیاته خوښه شوه.
د فلم سندرغاړي ارجیت سینګ او ویشال باندې چلیا او زنده بنده سندرې دومره عادي ویل شوې، چې د هغوی له شان سره خوند نه کوي .
خو ناټ رمیا وستاویا یې بیا د ستایلو وړ ده.
همدارګز د زنده بنده تامیل او تیلګو ورژن سندره هم ښه ویل شوې، مګر هندي سندرغاړو ورسره ښه خواري نه ده کړې.
د فلم د سندرو حقوق ټي سیریز شرکت په ۳۶ کروړه اخیستي او شعرونه یې کمار او ارشاد کامل لیکلي.
د پټان په نسبت د فلم کوریګرافینګ او نڅاوې د منلو وړ دي.

### ۴ ـ په تامیل او تیلګو ژبو کې شاه رخ خان ډبینګ:

که څه هم جوان په هندي ژبه کې د شاه رخ خان او نورو کرکټرونو خپل غږ لري؛ خو په تامل او تیلګو ژبه کې د شاه رخ خان خپل غږ نشته.
دا سمه ده چې شاه رخ به په دوو نورو ژبو نه پوهیږي، خو کم له کمه یو داسي کس یې باید اواز ویستی وای چې ده ته ورته وي. یا دي ده خپله ډایلاګونه په سټوډیو کې ډبینګ ښه باندې ویلي وای، په دې سره به د جنوبي هند مینه وال لا زیات را جذب شوي وو.
نوموړي له دې وړاندې د کمال هاسن په یو تامل فلم کې د ځانګړي رول پر مهال تامل ژبه ویلې وه، نو دا ځل هم ډېره سخته نه وه.
له دې وړاندې هم ډېرو هندي اداکارانو په تامل او تیلګو ژبه کې کار کړی، چې له هغې ډلې د پرباس په (ساهو) فلم کې د شردها کپور اواز اورېدلی شئ.

#تاسي_جوان_څنګه_ارزوئ؟


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ